Seattle Office of Labor Standards

# Domestic Workers Ordinance

## کال د حقونو او تادیه معلوماتو د خبرتیا بېلګه

هغوی چې د کورني کارګرانو حکم (Domestic Workers Ordinance) په واسطه د پوښښ لاندې کورنی کارګر ګومارلی یا د خدمتونو لپاره یې تادیه کوي، هڅول کیږي چې دا بیلګه ای خبرتیا خپلو کارګرانو ته په هغه ژبه کې توزیع کړي کومه چې هغوی په اسانی کاروي. دا خبرتیا قانوني مشوره نده او د Seattle ښار سره تړون نه رامینځته کوي.

د خبرتیا نیټه ____/____/____ د کارګر نوم ______________________________

د ګومارونکي نهاد نوم ____________________ د ګومارونکي نهاد تلیفون یا بریښنالیک ____________________

د ګومارونکي نهاد پته ________________________________________

## د لږترلږه مزد حق

تاسې حق لرئ لږترلږه د سیاټل حداقل معاش واخلئ. ستاسې د في ساعت تادیه ده: ډالر ______________$/ساعت.

تاسې ته به تادیه کیږي په: ________________________
(لکه د هرې کارې ورځې په پای کې، هره جمعه، هرو 2 اونیو کې د سه شنبه په ورځ وغیره)

### د اضافه کارۍ لپاره په شرایطو برابري: کوم چې اړوند وي په نښه یې کړئ

☐ تاسې د اضافه کارۍ لپاره په شرایطو برابر نه یې.

☐ تاسې د "اضافه کارۍ لپاره په شرایطو برابر" کارمند یې، یعني په یوه کارۍ اونۍ کې د 40 ساعتونو څخه هاخوا کارۍ ساعتونو لپاره تاسې د منظم تادیه 1.5x مستحق یې.

**ساعتواره لږ تر لږه معاش**

د Seattle د اوسنی لږ تر لږه معاش په هکله لا زیاتو معلوماتو لپاره:
seattle.gov/domestic-workers
ته مراجعه وکړئ یا QR کوډ سکن کړئ

** که تاسې کارمند یې، ستاسې کارګومارونکی باید خپل د بخششي پالیسي په اړه تاسې ته معلومات درکړي.

☐ وي ګورئ که ضمیمه وي

## د غوره وقفو یا دمې حق

د هرو څلورو ساعتونو کار لپاره چې تاسې یې د یوه ګومارونکي نهاد لپاره کوئ، تاسې د کار دریم ساعت په پای کې د 10 دقیقو دوامداره تادیه شوې وقفې درلودو حق لرئ.

### د دمې وقفې: کوم چې اړوند وي په نښه یې کړئ

☐ تاسې به وکولی شئ دوامداره تادیه لرونکي دمې وقفه ولرئ.

☐ تاسې به وکولی شئ د دمې لپاره وقفه واخلئ پداسې حال کې چې د کار ځای کې پاتې شئ او هرکله چې درته غږ وشي بېرته کار ته ستون شئ. که چیرې تاسې ستاسې د پاملرنې لاندې کوم چا د روغتیا او خوندیتوب مسؤلیت په غاړه لرئ، تاسې ممکن ستاسې د دندو له امله خپله وقفه له لاسه ورکړئ. پدغه موقعو کې به تاسې د هرځله له لاسه تللې دمې وقفې لپاره اضافي 10 دقیقې تادیه یا ______________$ ډالر ترلاسه کړئ.

☐ ستاسې د دندو له امله ستاسې د پاملرنې لاندې افرادو د روغتیا او خوندیتوب په خطر کې اچولو پرته د دوامداره دمې وقفې اخیستل نا ممکن یا نا شوني دي. تاسې به د هرو څلورو ساعتونو کار لپاره اضافي 10 دقیقې تادیه یا ______________$ ډالر ترلاسه کړئ.

**د دمې وقفو شرایط:**

- دې وقفه کې باید تاسې دمه وکړئ شئ او نور شخصي انتخابونه چې تاسې څنګه خپل وخت تیروئ.
- له تاسې ممکن وغوښتل شي چې د کار ساحه کې پاتې شئ او کله چې وغوښتل شئ نو کار ته بېرته ستون شئ، مګر غیرلدې به د کارې دندو څخه خلاص اوسئ.
- که ستاسې وقفه ستاسې د کارګومارونکي یا د کارې دندو په واسطه مختل شي، نو وقفه بېرته تر هغه وخت پورې پیل کیږي چې تاسې وکولی شئ پرله پسې 10 دقیقې وقفه وکړئ.

*یادونه: هغه کارګران چې په مستقیم ډول د ګومارونکي نهاد لخوا ګومارل شوي وي ممکن اضافي ځایی او د ایالت کاري معیارونه ولري، پشمول د تادیه لرونکي ناروغی رخصتي او خوندي وخت.
د کارمند د حقونو په اړه نور معلومات دلته www.seattle.gov/laborstandards موجود دي.

## د خوړو وقفې حق

د یوه ګومارونکي نهاد لپاره ستاسي هرو پنځه ساعتونو کار کې تاسي د پنځم ساعت په پای کې د خوړو دوامداره 30 دقیقو وقفې حق لرئ.

### د خوړو وقفې: کوم چې اړوند وي په نښه یې کړئ

- ☐ ستاسي د خوړو وقفې پرمهال به تاسي په بشپړ ډول د خپلو کاري دندو څخه خلاص اوسئ. تاسي به د خوړو تادیه نلرونکې وقفه ترلاسه کړئ. تاسي کولی شئ د خوړو تادیه نلرونکې وقفه رد کړئ. د لغو کولو شرایطو لپاره د اړخ خانه وګورئ.
- ☐ ستاسي د خوړو وقفې پرمهال تاسي اړ یې د کار ساحه کې پاتې شئ او کله چې وغوښتل شئ بیرته کار ته ستون شئ، مګر غیرلدې د کاري دندو څخه خلاص یې. تاسي به د خوړو تادیه لرونکې وقفه ترلاسه کړئ. تاسي نشئ کولی دا د خوړو تادیه لرونکې وقفه لغو کړئ.
- ☐ تاسي د کورنۍ د یوه غړي د روغتیا او خوندیتوب مسؤل یې، مګر باید د خوړو تادیه لرونکې وقفه ترلاسه کړی شئ. په کومو ورځو چې تاسي د خپلو دندو له امله خپله د خوړو وقفه له لاسه ورکوئ، تاسي ته باید د هرځل له لاسه ورکړي خوړو وقفې لپاره اضافي 30 دقیقې یا $__________ ډالر تادیه شي.
- ☐ ستاسي د دندو له امله ستاسي د پاملرنې لاندې افرادو د روغتیا او خوندیتوب په خطر کې اچولو پرته د خوړو دوامداره وقفې اخیستل نا ممکن یا نا شوني دي. تاسي به د هرو پنځه ساعتونو کار لپاره اضافي 30 دقیقې تادیه یا $__________ ډالر ترلاسه کړئ.

## د دمې ورځې حق

که تاسي پرله پسې 6 ورځې کار کوئ، او خپل کارځای کې اوسیږئ یا ویده کیږئ، تاسي د تادیه نلرونکې 24 ساعتونو دمې درلودو حق لرئ.

- په 24 ساعتونو موده کې هر مقدار کار د کاري ورځې په توګه ګڼل کیږي.
- پدغه 24 ساعتونو دمې موده کې تاسي باید په بشپړ دول د خپلو کاري دندو څخه خلاص اوسئ، اړ نه یې کاري ساحه کې پاتې شئ، او نه هم اړ یې کار ته بیرته ستون شئ که راوغوښتل شئ.
- تاسي کولی شئ د دمې ورځ لغو کړئ.

## د شخصي اسنادو د ساتلو حق

تاسي حق لرئ خپل اصلي اسناد او شخصي وسایل وساتئ.

## غچ اخیستنه ممنوع ده

تاسي حق لرئ د غچ اخیستنې څخه آزاد اوسئ. د سیاټل د کار معیارونو (Seattle Labor Standards) په واسطه محافظت شوي حقونو د کارولو لپاره ستاسي پروړاندې د ګومارونکي نهاد لخوا د مخالف اقدام کول (لکه له دندې ایستل، تنزیل، او د مهاجرت حالت د راپور ورکولو ګواښونو کول) غیرقانوني دي.

د خوړو وقفو شرایط:

- دې خوړو وقفه کې باید تاسي دمه وکړی شئ او نور شخصي انتخابونه چې تاسي څنګه خپل وخت تیروئ.
- که ستاسي د خوړو وقفه ستاسي د کارګومارونکي یا د کاري دندو په واسطه مختل شي، نو د خوړو وقفه بیرته تر هغه وخت پورې پیل کیږي چې تاسي وکولی شئ پرله پسې 30 دقیقې وقفه وکړئ.

د خوړو وقفې یا د دمې ورځې لغو کول؟

- دا لغو کول باید په خپله خوښه او د کارګر په ګټه وي.
- تاسي باید د خپلو حقونو په اړه خبر کړی شئ چې لغو کوئ او د لغو کولو پایلې.
- ستاسي لغو باید د لغوې د اجرا نیټه وښئ.
- تاسي حق لرئ هرکله دا لغو بیرته واخلئ.

### پوښتنې یا شکایتونه؟

د پوښتنې کولو یا د شکایت کولو لپاره، اړیکه ونیسئ: په (206) 256-5297 شمیره د سیاټل د کار معیارونو دفتر (Seattle Office of Labor Standards) سره یا www.seattle.gov/laborstandards ته ورشئ.

د هغوی خدمتونه وړیا دي.
هغوی به د ژبې وړیا ژباړه وړاندې کړي.
هغوی به هیڅکله له تاسي ستاسي د مهاجرت حالت په اړه پوښتنه ونکړي.

### د مدني حقونو محافظتونه

کورني کارګران همدارنګه د سیاټل د عادلانه کارموندنې کړنو قانون (Seattle's Fair Employment Practices Law) له مخې حق لري د جنسي ځورونې، غچ اخیستنې او تبعیض څخه آزاد اوسي.

د دې حق په اړه د نورو معلوماتو لپاره، اړیکه ونیسئ: په (206) 684-4500 شمیره د سیاټل د مدني حقونو دفتر (Seattle Office for Civil Rights) سره یا www.seattle.gov/civilrights ته ورشئ.